مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۱۱/۷

چیچلو ته مو تل راځي لـړم لـه پاکستانـه

غـزل

نه ام له پاکستـانـه؛ نه غنم له پاکستانه!
ولا که خو نور واخلمه قلم له پاکستانه!

بارود له پاکستانه راځي بم له پاکستانه
راغلی مـوږ ته ټول عمر دی غم له پاکستانه!

واکسین د روغ صحت راته راځي له کفرستانه
چیچلو ته مو تل راځي لـړم لـه پاکستانـه!

پنجاب تل رالیږلي پـه مـزهب کـي دلالي ده
منتر د غولولو چـوف او دم لـه پـاکـستانـه!

خالقه! ته يې هر قدم حساب کړې په طواف کې
راخیستی چې وطن ته چا قدم له پاکستانه

چې زه له تندې مرمه او چینه يې وي پنجاب کې
باوره! هم بـه و نـه څښم زم زم له پاکستانـه!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ